# <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

## د حزب التحرير- ولايه لبنان ښځو برخې «د فلسطين لپاره د ښځو د اقدام نړيوالې ورځې» په چوکاټ کې يو سيمينار جوړ کړ

(ژباړه)

د حزب التحرير- ولايه لبنان ښځو برخې د لبنان په پلازمنه، بيروت کې د فلسطين لپاره د ښځو د اقدام نړيوالې ورځې په چوکاټ کې د ښځينه ګډونوالو په حضور کې يو سمينار جوړ کړ. په ياد سمينار کې پر مسلمانو پوځونو غږ وشو چې د غزې ښځې او ماشومان وژغوري او د فلسطين سپېڅلې خاوره ازاده کړي.

سمينار د محمد سورت د څو مبارکو اياتونو په تلاوت سره پيل شو. وروسته د حزب التحرير- مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخې مشرې ډاکټر نسرين نواز په استازيتوب، رانا مصطفی خور تر **"روانه نسل وژرنه يوازې د مسلمانو پوځونو له لوري د فلسطين له بشپړې ازادۍ سره ختمېدی شي!**» سرليک لاندې وينا وکړه. په ياده وينا کې د امت هغو وړتياوو او سرچينو ته اشاره وشوه چې پوځونو ته د فلسطين د ازادۍ وړتيا ورکوي او دا چې دا چاره د اوسنيو رژيمونو تر حاکميت لاندې ناشونې ده. بلکې داسې يو ساتونکی بايد وي چې خلک يې تر شا جګړه وکړي، خپل امت ته وفادار او د امت د ګټو لېواله وي. په دغې وينا کې پوځونو ته هم خطاب شوی و چې پورته شي او په غزه کې زموږ خلک وژغوري.

له دې وينا وروسته د غزې د خلکو په ملاتړ په لوړ اواز تکبيرونه او شعارونه ورکړل شول. وروسته تر **"په غزه کې اور بل دی. اې پوځونو! حرکت وکړئ، چې عزت مو په برخه او له شرم څخه خلاص شئ**» سرليک لاندې يوه ويډيو خپره شوه.

دويمه وينا احسان محمد خور تر **"لا هم په خپلو اډو کې په تمه يئ؟"** سرليک لاندې وکړه چې څلور پيغامونه يې وړاندې کړل: لومړی يې د درباري علماوو لپاره و، چې له الله سبحانه وتعالی څخه وويرېږئ، له هغه سبحانه وتعالی څخه وويرېږئ او د مسلمانانو د ناکامۍ مخه ونيسئ. دويم پيغام د حکامو لپاره و.

درېيم پيغام د پوځونو لپاره و، چې بايد د فلسطين د خلکو څخه په دفاع کې خپل مکلفيت ادا کړي. څلورم پيغام د ميرمنو لپاره و؛ دا چې د دوی رول او ريښتينې، اغېزناکه او د حق وينا يې څومره ارزښت لري. هغې خپله وينا د حاضرو کسانو لپاره په عملي سپارښتنو پای ته ورسوله، چې غږ پورته کړي او پوځونه وهڅوي، چې د

الله سبحانه وتعالی له نصرت څخه ناهيلي نه شي. له دغې وينا وروسته شعارونه ورکړل شول او يوه ويډيو خپره شوه چې د امت پر پوځونو غږ پکې شوی و.

درېيمه او وروستۍ وينا تر **"درد او هيله!"** سرليک لاندې ريم محسن خور وکړه. په دې وينا کې د هغو هيلو په اړه خبرې وشوې، چې د غزې د جگړې په پايله کې را پيدا شوې دي: د امت د پاشلو او د امت له ذهنه د فلسطين مسلې پاکولو په برخه کې د غربي پلانونو ناکامي او د غزې د خلکو د استقامت په ليدلو سره د خلکو مسلمانېدل.

دغه سمينار د خديجې عکش خور په دعا پای ته ورسېد؛ دعا وشوه چې الله سبحانه و تعالی زموږ دا عمل ومني او بريا را په برخه کړي؛ د غزې د د خلکو پر وړاندې د غفلت له گناه را تېر شي؛ د پوځونو زړونه پرانېزي او د هغه سبحانه وتعالی په لار کې د جهاد ځواک ورکړي او موږ ته د نبوت پر منهج راشده خلافت دولت را په برخه کړي.

سمينار د غزې د مسلې د حل په اړه له ويناوالو او حاضرينو سره په څو مرکو پای ته ورسيد.

## حزب التحرير – ولايه لبنان د ښځو برخه

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د جمادی الاول ۱۲مه**

**۲۰۲۳م کال، د نومبر ۲٦مه**

**د صدور گڼه: ۰۸/ ۱۴۴۵**

**ژباړن: محمد حامد**